مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۹٦** (از ۷ الی ۱۴ حوت ۱۳۹۵ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........................................ ۲

**په اسلام‌آباد کې د ایکو کنفرانس او افغان-پاک اړیکې**

د ایکو سازمان مخینه ........................................ ۴

ایکو کنفرانس؛ او د سیمې ترلتیا؟ ........................................ ۴

د ایکو په څنډه کې افغان-پاک اړیکې ........................................ ۵

**از نشست گروه بین‌المللی تماس تا نشست علمای اسلام**

گروه بین‌المللی تماس ........................................ ۸

بیستمین کنفرانس گروه بین‌المللی تماس ........................................ ۸

تلاش حکومت برای برگزاری کنفرانس علمای اسلام ........................................ ۹

موثریت کنفرانس علمای جهان اسلام ........................................ ۱۰

## مقدمه

په اسلام‌آباد کې د اقتصادي همکارۍ سازمان (ایکو) غونډه داسې مهال جوړه شوه، چې له تېرو دوو اوونیو راهیسې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د تگ راتگ دروازې د پاکستان د حکومت لهخوا په بشپړ ډول تړل شوې دي.

سره له دې چې افغانستان د "ایکو" سازمان غړی دی؛ خو له کابله کوم لوړپوړي افغان چارواکي په دې غونډه کې گډون ونه کړ او یوازې په پاکستان کې افغان سفیر عمر زاخېلوال دې غونډې ته ورغی. په دې غونډه کې افغان سفیر د افغانستان – پاکستان ترمنځ د لارو پر تړلو نیوکه وکړه. د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د دې اوونۍ د تحلیل په لومړۍ برخه کې په توله کې د ایکو سازمان او په ځانگړي ډول د دغه سازمان د وروستۍ غونډې او ترڅنگ یې د دوه‌اړخیزو اړیکو د راتلونکې په تړاو شننه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې په سعودي عربستان کې د اسلامي همکاریو د سازمان په کوربه‌توب د تماس نړیوال گروپ د شلم کنفرانس په اړه لولئ. دا غونډه د ۵۰ هېوادونو د استازو په گډون جوړه شوه او د افغانستان د امنیت او ثبات په اړه پکې بحثونه وشول.

په دغه کنفرانس کې، په نژدې راتلونکې کې د اسلامي نړۍ د علماوو د غونډې اعلان هم وشو، چې ټاکل شوې د سعودي عربستان په کوربه‌توب جوړه شي. دا چې د تماس نړیوالې ډلې په وروستي کنفرانس کې څه تېر شول او د اسلامي نړۍ د علماوو غونډه به په افغانستان کې پر سوله او جگړه څومره اغېزناکه وي؟ د تحلیل په دویمه برخه کې یې په اړه شننه لولئ.

# په اسلامآباد کې د ایکو کنفرانس او افغان-پاک اړیکې



تېره اوونۍ (د ۱۳۹۵ د حوت ۱۰مه) په اسلامآباد کې د اقتصادي همکارۍ سازمان ۱۳مه غونډه وشوه، چې د پاکستان د لومړي وزیر په ګډون د ۸ هېوادونو د حکومتونو او یا هم دولتونو مشرانو پکې ونډه واخیسته. افغان ولسمشر اشرف غني او د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر صلاح الدین رباني په دغه غونډه کې ګډون ونه کړ او د افغانستان استازیتوب پکې په پاکستان کې افغان سفیر او د ولسمشر ځانګړي استازي عمر زاخیلوال وکړ.

دا کنفرانس داسې مهال جوړېږي، چې افغان-پاک اړیکې د پاکستان سند ایالت کې د لعل شهباز قلندر زیارت کې د چاودنې له کبله خرابې شوې. له همدې امله، له تېرو دوو اوونیو راهیسې د پاکستان او افغانستان ترمنځ سرحدي پولې په بشپړ ډول تړلې دي.

دا چې د ایکو سازمان مخینه څه ده، دا وروستی کنفرانس به د سیمې په تړلتیا کې څه رول ولوبوي او دا مهال د افغانستان او پاکستان اړیکې څرنګه دي؟ په دې تحلیل کې څېړل شوي دي.

## د ایکو سازمان مخینه

د ایکو سازمان پوره نوم د اقتصادي همکارۍ سازمان یا Economic Cooperation Organization (ECO) دی. دغه سازمان په ۱۹۸۵ کال کې د ترکیې، ایران او پاکستان لهخوا د غړو هېوادونو ترمنځ په مجموعي توګه د اقتصادي، تخنیکي او کلتوري همکارۍ په موخه جوړ شو.

په مشخصه توګه د دغه سازمان موخې د غړو هېوادونو پایدار اقتصادي پرمختګ، په تدریجي توګه د سوداګرۍ په لاره کې د خنډونو لرې کول، د غړو هېوادونو ترمنځ د ترانسپورت او مخابراتو د زېربناو پرمختیا، اقتصادي لیبرالیزم او خصوصي کول، په سمه توګه د ایکو سیمې له صنعتي او زراعتي ورتیاو څخه ګټه اخیستل، د مخدره توکو د کنټرول او چاپېریال ساتنې په برخه کې سیمهییزه همکاري او د غړو هېوادونو ترمنځ د تاریخي او کلتوري اړیکو پیاوړي کول دي[1].

کله چې د شوروي اتحاد له ماتېدو سره په منځنۍ آسیا کې نوي هېوادونه رامنځته شول، نو د دغه سازمان غړي له ۳ څخه ۱۰ ته لوړ شول. په دغو هېوادونو کې آذربایجان، قزاقستان، قرغیزستان، تاجکستان، ترکمنستان، ازبکستان او افغانستان وو.

افغانستان په دغه سازمان کې بشپړ غړیتوب په ۱۹۹۲ کال کې واخیست؛ خو له ۱۹۹۲ کال څخه تر ۲۰۰۱م پورې یې پکې په سم ډول او فعاله برخه ونه لرله. له ۲۰۰۱م وروسته یې پکې فعال حضور درلودلی او دغه سازمان هم په افغانستان کې په یو شمېر پروژو کې ونډه اخیستې ده[2].

## ایکو کنفرانس؛ او د سیمې ترلتیا؟

د ایکو وروستی کنفرانس له پنځه کلن ځنډ وروسته داسې مهال په اسلامآباد کې جوړ شو، چې پاکستان په سیمه کې تر څه حده منزوي شوی بلل کېده؛ ځکه د ۲۰۱٦ کال په وروستیو کې د سارک له اتو غړو هېوادونو څخه پنځو هېوادونو یې په اسلامآباد کې د سارک په اتلسمه غونډه کې له ګډون کولو څخه انکار وکړ او له کبله یې هغه غونډه هم وځنډول شوه. همدا لامل و، چې کله د ایکو کنفرانس په اسلامآباد کې جوړېده، نو پاکستان

---

[1] د نورو معلوماتو لپاره وګورئ، د دغه سازمان وېبپاڼه:
http://www.ecosecretariat.org/in2.htm

[2] د نورو معلوماتو لپاره وګورئ، د بهرنیو چارو وزارت رسمي وېبپاڼه:
http://mfa.gov.af/en/page/6546/6565/6569

د آذربایجان ولسمشر الهام علي‌اف، د ایران ولسمشر حسن روحاني، د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان، د قرغیزستان لومړي وزیر سورنبای جینبیکوف او د تاجکستان ولسمشر امام علي رحمان ته په هوایي ډګر کې د ۲۱ ډزو سلامي ورکړه.

په دغه کنفرانس کې هم د تېرو کنفرانسونو په څېر د سوداګرۍ او اقتصادي اړیکو د پراختیا نوي ژمنې وشوې او همدا راز د اقتصادي همکاریو سازمان د ۲۰۲۵ کال لرلید یې هم ومانه. دغې غونډې ته چین هم، د چین-پاکستان اقتصادي حوزې او د یوه کمربند او یوې کرښې پلان له کبله د ځانګړي مېلمه په توګه دعوت شوی و، چې له یوې خوا د ایکو غړو هېوادونو له دغې لویې پروژې په تېره بیا سیپیک څخه ملاتړ وکړ او له بلې خوا چین هم، دغه سازمان د نړۍ د اقتصادي پرمختیا لپاره مهم وباله.

که څه هم د ایکو پر سازمان ۳۲ کلونه اوړي؛ خو له جوړېدو راهیسې یې تراوسه ډېرې کمې لاسته‌راوړنې لرلې دي. د بېلګې په توګه د ایکو سازمان د غړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ پراختیا د دغه سازمان بنسټیزه موخه ده، په داسې حال کې چې اوس هم د غړو هېوادونو ترمنځ سوداګري کمه ده. که د سوداګرۍ ارقامو ته وګورو، نو له ۲۰۰۲ کال څخه تر ۲۰۱۲ کال پورې د غړو هېوادونو ترمنځ خپل‌منځي سوداګري ۳،٦ سلنه زیاته شوې ده. په ۲۰۰۲ کال کې د غړو هېوادونو ترمنځ خپل‌منځي سوداګري د مجموعي سوداګرۍ ۵،۳ سلنه وه او په ۲۰۱۲ کال کې بیا ۸،۹ سلنه شوه. په داسې حال کې چې په پیل کې اټکل دا و، چې تر ۲۰۱۵ کال پورې به خپل‌منځي سوداګري د مجموعي سوداګرۍ ۲۰ سلنې پورې ورسېږي.

په بل اړخ کې، د افغانستان-پاکستان ترمنځ سیاسي او د جغرافیې پر سر اختلافات، د ایران-ترکیې رقابت، پر ایران د اتومي پروګرام له کبله بندیزونه (چې په ۲۰۱۵ کال کې لرې کړل شول)، په دې سیمه کې د ترانسپورت او ترانزیټي زېربناو کموالی او کمزورتیا او دغه راز دلته د نورو هېوادونو ډېره لېوالتیا او ښکېلتیا بیا هغه عوامل دي، چې د سیمې د هېوادونو ترمنځ یې همکاري او سوداګري راکمه کړې ده.

## د ایکو په څنډه کې افغان-پاک اړیکې

په اسلام‌آباد کې د ایکو سازمان په غونډه کې د افغانستان له‌خوا په ټیټه کچه حضور، د افغانستان او پاکستان ترمنځ په دوه‌اړخیزو اړیکو کې پر بې‌باورۍ او د اړیکو پر زیات خرابوالي دلالت کوي. په روانه میاشت کې، د پاکستان د سند ایالت د لعل شهباز قلندر په زیارت کې خونړۍ چاودنه وشوه. د رسنیو د رپوټونو له مخې

اسلامي دولت ډلې او د تحريک طالبان پاکستان وسله‌والو گوندونو د دغې چاودنې مسؤوليت ومانه. پاکستان د دغې چاودنې په غبرگون کې پنځه کارونه وکړل:

**لومړی** يې له افغانستان سره خپله پوله وتړله، چې اوس هم (له تېرو دوو اوونيو راهيسې) په بشپړ ډول بنده ده؛

**دويم** يې د پاکستان د بهرنيو چارو وزارت او پاکستاني پوځ افغان ديپلوماتان احضار کړل؛

**درېيم** يې افغان لوري ته د ۷٦ تنو يو داسې نوملړ ورکړ، چې د دوی په گمان د افغانستان په خاوره کې دي؛

**څلورم** يې د افغانستان پر خاوره راکټي بريدونه بيا پيل کړل او د افغان رسنيو له قوله پاکستاني هلي‌کوپترې هم د پولې دې غاړې ته راواوښتلې؛

**پنځم** يې په پاکستان کې د رد الفساد تر نامه لاندې نوي عمليات پيل کړل.

دغه نوي حالت، چې د سرحدي پولې له تړلو نيولې د افغانستان پر خاوره تر راکټي بريدونو او په پنجاب ايالت کې د پښتنو په نښه کولو او ځورولو پورې ټول هغه څه دي، چې د افغانستان او پاکستان د ولسي خلکو ترمنځ يې د تورخم له جگړې وروسته کرکه نوره هم زياته کړې ده.

د ايکو دغه کنفرانس يو داسې فرصت گڼل کېده، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړيکې به بيا ورغوي؛ خو دغه کنفرانس هم ونه شو کړای، چې د افغان لوري لهخوا د يوه لوړپوړي پلاوي د گډون له کبله د دواړو هېوادونو لوړپوړو چارواکو ته د کتنې يو بل فرصت په لاس ورکړي او نه هم پاکستان په يوه داسې اقتصادي کنفرانس کې، چې موخه يې د سيمې اقتصادي او سوداگريزه تړلتيا ده، د افغانستان او پاکستان ترمنځ د پولو پرانيستلو اعلان وکړ. بده لا دا چې د پاکستان د پوځ وياند افغان حکومت ته سپارښتنه وکړه، چې اسلام‌آباد ته دې له خپلو افغاني عينکو وگوري نه له پاکستان-ضد عينکو (اشاره يې د هېواد خراب اقتصادي او امنيتي وضعيت ته وه). د دې ترڅنگ يې د پولې پرانيستلو په تړاو ووېل، چې د سرحداتو له پرانيستلو وړاندې بايد افغانستان يو شمېر کارونه ترسره کړي[3].

په دوه‌اړخيزو اړيکو کې دغه حالت د پاملرنې وړ دی، چې دا بيا د تورونو لگولو له لارې نه شي رغېدلای. بلکې د باور جوړونې گامونو په تېره بيا د سرحدي پولو پرانيستلو په څېر گامونو ته اړتيا لري، ترڅو اړيکې د بيا عادي کېدو په لور ولاړې شي.

[3] د دغو خبرو په تړاو ولولئ، د پاکستان ډان ورځپاڼې راپور:
https://www.dawn.com/news/1317556

# از نشست گروه بین‌المللی تماس تا نشست علمای اسلام




نشست 'گروه بین‌المللی تماس' با حضور نماینده‌گان ۵۰ کشور و سازمان جهانی به تاریخ (۱۰ حوت ۱۳۹۵) در مقر سازمان همکاری‌های اسلامی یا (OIC) در شهر جدهٔ عربستان سعودی برگزار شد. موضوع اصلی بحث در این نشست بر امنیت و ثبات افغانستان می‌چرخید.

در این کنفرانس، هیأتی از افغانستان به ریاست حکمت خلیل کرزی معین سیاسی وزارت امور خارجهٔ افغانستان، اشتراک کرده بود. کرزی در سخنرانی خویش به این نشست گفت که حکومت افغانستان برخی اصلاحات را زیر دست دارد که می‌تواند در رسیدن به صلح در این کشور کمک کند. علاوه بر این در این نشست اعلام شد که در آیندهٔ نزدیک کنفرانس علمای جهان اسلام در مورد صلح و ثبات در افغانستان به میزبانی عربستان سعودی برگزار خواهد شد.

در این تحلیل در کنار معرفی گروه بین‌المللی تماس، به نتائج کنفرانس اخیر این گروه در رابطه به افغانستان و طرح کنفرانس علمای اسلام و موثریت آن در قضیهٔ صلح و جنگ در افغانستان، پرداخته شده است.

## گروه بین‌المللی تماس

گروه بین‌المللی تماس یا International Contact Group (ICG) در سال ۲۰۰۸ میلادی براساس پیشنهاد ریچارد هالبورک نمایندۀ پیشین امریکا برای افغانستان و پاکستان و نظارت کشور آلمان ایجاد شد. این گروه شامل حدود ۵۰ کشور و متشکل از نماینده‌گان خاص رؤسای جمهور کشورهای همکار با افغانستان می‌باشد که جلسات آن از جانب وزارت خارجۀ کشورهای عضو انسجام می‌یابد.

این گروه سالانه سه الی چهار بار جلسات‌اش را در کشورهای مختلف برگزار می‌کند و هدف اساسی ایجاد این گروه، به وجود آوردن هماهنگی میان نماینده‌گان خاص کشورها در امور افغانستان بود تا در مورد مسایل عمدۀ افغانستان بحث و تجدید تعهد کنند. در نشست‌های گروه بین‌المللی تماس بیشتر به دست‌آوردهای افغانستان و جامعۀ بین‌المللی در ساحات مختلف پرداخته می‌شود، ولی اشتراک کننده‌گان تعهد مستقیم کمک‌های مالی نمی‌کنند.

## بیستمین کنفرانس گروه بین‌المللی تماس

کنفرانس هفتۀ گذشته بیستمین نشست گروه بین‌المللی تماس بود که به میزبانی سازمان همکاری‌های اسلامی (OIC) و حکومت افغانستان در شهر جده برگزار شد. در هیأت حکومت افغانستان نماینده‌گان شورای عالی صلح و شورای امنیت ملی نیز اشتراک ورزیده بودند.

در کل بحث این کنفرانس روی وضعیت سیاسی، امنیتی و اقتصادی افغانستان و تاکید بیشتر روی پروسۀ صلح بود. رئیس سازمان همکاری‌های اسلامی در این کنفرانس ابراز داشت که قرار است در ماه‌های آینده در مورد صلح و ثبات در افغانستان، یک کنفرانس بین‌المللی علماء برگزار شود. این همان نشستی است که افغانستان انتظار دارد در آن جنگ کنونی بر ضد حکومت افغانستان غیرمشروع اعلام شود و طالبان برای پیوستن به صلح تشویق شوند.

در این کنفرانس برخلاف گذشته، لحن هیأت حکومت افغانستان در رابطۀ به موضوع مذاکرات صلح با گروه‌های مخالف مسلح دولت متفاوت بود. هیأت افغان گروه‌های مخالف مسلح دولت را دشمنان "قصی القلبی" مردم عام، زنان و کودکان افغان خواند و تأکید کرد که از ملت افغانستان در برابر حملات این گروه‌ها دفاع خواهد کرد.

علاوه بر این در این کنفرانس روی دست‌یابی کشورهای منطقه به یک استراتیژی مشترک در امر مبارزه علیه "تروریزم" تأکید شد، زیرا بهبود وضعیت امنیتی در افغانستان به رونق اقتصاد و پیشرفت تجارت و ترانزیت در منطقه کمک می‌کند و در آن منفعت جمعی تمامی کشورهای منطقه است.

## تلاش حکومت برای برگزاری کنفرانس علمای اسلام

حکومت افغانستان دعوت دینی طالبان از مردم به جنگ علیه «اشغال خارجی» را رد می‌کند، اما در عین حال اهمیت و قدرت فتواهای دینی را نیز درک کرده و همواره تلاش کرده تا یک کنفرانس بین‌المللی علمای جهان اسلام را سازمان‌دهی و از طریق آن جنگ جاری در افغانستان را از نظر شرعی رد کند.

در این زمینه حکومت افغانستان در زمان ریاست جمهوری حامد کرزی تلاش کرد تا با کمک کشورهای اسلامی به ویژه عربستان سعودی، یک کنفرانس بین‌المللی علمای جهان اسلام را برگزار نماید و توجه این کشور را به قضیۀ تامین صلح در افغانستان جلب کند، اما با وجود تلاش‌ها این کار صورت نگرفت.

پس از روی کار آمدن حکومت وحدت ملی رهبران این حکومت نیز همان تلاش‌ها را تعقیب نمودند. رئیس جمهور غنی پس از رسیدن به قدرت سه بار به عربستان سعودی سفر کرد و نیز بیانیه‌یی به حمایت از عربستان سعودی در جنگ یمن صادر کرد و افغانستان بخشی از اتحاد ضد "تروریزم" به رهبری عربستان سعودی شد. وزیر خارجۀ افغانستان رسما از ایاد امین مدنی سرمنشی سازمان همکاری‌های اسلامی تقاضای برگزاری کنفرانس علمای اسلامی در بارۀ صلح افغانستان کرد.

رئیس اجرائیه حکومت وحدت ملی نیز در اکتوبر ۲۰۱٦م در سفرش به عربستان سعودی، موضوع کنفرانس علمای جهان اسلام را با مقامات سعودی مطرح کرد و از آن‌ها خواست تا با استفاده از جایگاه و نفوذی که در بین کشورهای اسلامی دارد، کنفرانس بین‌المللی علمای جهان اسلام را برگزار نماید.

بالآخره در کنفرانس اخیر (۱۰ حوت ۱۳۹۵) گروه بین‌المللی تماس اعلام شد که کنفرانس علمای اسلام در ماه‌های آینده به میزبانی عربستان سعودی برگزار خواهد شد. هرچند هنوز هم مشخص نیست که این کنفرانس برگزار خواهد شد یا خیر؟ چون در گذشته نیز سخن از برگزاری چنین کنفرانسی زده شده بود، ولی گمان می‌رود که به دلیل عکس‌العمل و مخالفت جدی طالبان، این کنفرانس به تعویق افتاد و تاکنون برگزار نشده است.

## موثریت کنفرانس علمای جهان اسلام

حکومت افغانستان تلاش می‌ورزد تا با استفاده از روابط حسنه با عربستان سعودی کنفرانس علمای اسلامی در مورد قضیۀ افغانستان در آن کشور برگزار گردد. از یک‌سو عربستان سعودی به عنوان مهم‌ترین کشور جهان اسلام و از سوی دیگر نقش و اهمیت سازمان همکاری‌های اسلامی برای نتائج که حکومت افغانستان از برگزاری چنین کنفرانس انتظار دارد، قابل اهمیت است.

هرچند تاریخ دقیق برگزاری کنفرانس علمای جهان اسلام اعلام نشده و مشخص نیست که چنین نشستی برگزار خواهد شد یا خیر؟ ولی پرسش اینجاست که اگر چنین کنفرانس دایر گردد، موثریت و نقش آن در قضیۀ افغانستان به چه حد خواهد بود؟ در این مورد چند نکته قابل یادآوری است.

نخست اینکه اشتراک کننده‌گان این کنفرانس کی‌ها خواهند بود؟ آیا کسانی در این کنفرانس اشتراک خواهند کرد که نظر آنها برای طالبان قابل قبول باشد؟ چون حدود پنج سال پیش حکومت افغانستان تلاش نموده بود تا یک کنفرانس مشترک علماء را در کابل راه‌اندازی نماید اما علمای دینی برخی کشورها به خصوص پاکستان از اشتراک در آن نشست خوداری کردند.

اگر اشتراک کننده‌گان این کنفرانس طرفداران حکومت افغانستان باشند و علمای که روی طالبان تاثیرگذار هستند در آن اشتراک نکنند، خواه نخواه تاثیر روی جنگ جاری طالبان در برابر حکومت افغانستان نخواهد داشت. ولی در صورتی که اشتراک کننده‌گان این کنفرانس کسانی باشند که طالبان به نظر آن‌ها اهمیت قایل هستند و آنان جنگ کنونی افغانستان را غیرمشروع بدانند، ممکن تا حدی بر اذهان برخی افراد در صفوف طالبان تاثیرگذار باشد ولی به هیچ وجه باعث خاتمه جنگ طالبان علیه حکومت نخواهد شد.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (93+)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (93+) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: 775454048 (93+) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.